Office of the Deputy PM for Economic Affairs
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## خبرپاڼه

دریم کال - ۱۰ مه ګڼه | پرله‌پسې ۷۲ مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۳/۲۱



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکتورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- شبرغان کې د سوداګریز مارکیټ د جوړولو طرحه تایید شوه

۲- د هرات ـ مزارشریف د اورګاډي پټلۍ پروژې د تمویل په اړه ګډه ناسته جوړه شوه

۳- ازبکستاني شرکت په افغانستان کې د کانونو د پروسس صنعت کې پانګونې ته لېوالتیا ښودلې

## شبرغان کې د سوداګریز مارکیټ د جوړولو طرحه تایید شوه



د اقتصادي معاونیت د پانګونې بین الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ کال د غبرګولي په ۱۹مه نېټه په مرمرینه مانۍ کې جوړه شوه، چې په ترڅ کې یې د جوزجان ولایت د مرکز شبرغان ښار په مربوطاتو کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګریز مارکیټ د جوړولو طرحه بحث او وارزول شوه. د یادې طرحې تخنیکي، حقوقي او اقتصادي اړخونه د اړوندو ادارو له لوري وارزول شول او په پایله کې د تایید وړ وبلل شوه. د طرحې له مخې به خصوصي سکټور د شاوخوا ۲۳ میلیون افغانیو په پانګونې سره یو درې پوړیز سوداګریز مارکیټ جوړ کړي، چې ۵۴ هټۍ به ولري. تمه ده چې د دې پروژې په بشپړېدو سره به په شبرغان کې سوداګریز فعالیتونه لا پراخ شي او سوداګرو ته به د کاروبار له پاره مناسب او معیاري ځایونه برابر شي. خصوصي پانګونه د هېواد د اقتصادي ودې له پاره اړینه ده او په دې برخه کې مهم محرک ګڼل کېږي. د افغانستان اسلامي امارت له راتګ سره خصوصي پانګونې ته توجه شوې او په مختلفو سکټورونو کې ډېره پانګونه جلب شوې ده. له دې امله په هېواد کې اقتصادي فعالیتونه زیات شوي او ګڼو هېوادوالو ته په کې کاري فرصتونه هم ایجاد شوي دي. د سوداګریزو مرکزونو جوړېدلو سره سوداګرو ته اسانتیاوې رامنځته او د خدماتو کیفیت لوړېږي. دغه راز، د ابادۍ له کارونو سره د کار زمینه برابرېږي او له بشپړېدو سره یې هم ګڼ شمېر هېوادوال په مستقیم او غیر مستقیم ډول مستفید کېږي. شبرغان د هېواد شمال کې له مهمو مرکزونو دی او د زیربناوو پراختیا کولی شي چې یاد ولایت کې د اقتصادي فعالیتونو پراختیا ته زمینه برابره کړي، کاري فرصتونه ایجاد او د پانګونې د جذب په برخه کې مثبت بدلون رامنځته کړي.

## د هرات ـ مزارشریف د اورګاډي پټلۍ پروژې د تمویل په اړه ګډه ناسته جوړه شوه

د افغانستان بانک، مالیې وزارت او د سوداګریزو بانکونو د استازو ترمنځ د ملي پروژو د تمویل او پانګونې په موخه ګډه ناسته جوړه شوې وه، چې په ترڅ کې یې د هرات ـ مزارشریف د اورګاډي پټلۍ د سترې پروژې د تمویل پر لارو چارو هر اړخیز بحث وشو. د معلوماتو له مخې، دغه پروژه ۶۵۷ کیلومتره اوږدوالی لري او د پلي کېدو ټولیز لګښت یې نږدې ۵۵ میلیارده افغانۍ اټکل شوی دی. په ناسته کې د سوداګریزو بانکونو استازو په دې ستره ملي پروژه کې د ګډون، پانګونې او تمویل له پاره خپل بشپړ چمتووالی څرګند کړی. د خصوصي مالي بنسټونو لېوالتیا ښیي چې د هېواد د اقتصادي پراختیا په برخه کې د خصوصي مالي بنسټونو ونډه د لا ډېرې پراختیا په لور روانه ده او د پانګونې نوې زمینې رابرېږي. د هرات - مزارشریف د اورګاډي پټلۍ پروژه د افغانستان له مهمو ترانسپورتي او اقتصادي پروژو

ګڼل کېږي. د دې پروژې په عملي کېدو سره به د هېواد لویدیځې او شمالي سیمې په عصري ریل پټلۍ سره ونښلول شي. په دې سره به کورنی سوداګری او نړیوال ترانزیټ او د توکو انتقال په برخه کې به مهم بدلونونه رامنځته شي. د یادې ریل پټلۍ پراختیا سره به ترانسپورتي لګښتونه راکم شي، د سوداګریزو توکو انتقال به چټک شي، د هېواد د صادراتو د پراختیا لامل به وګرځي او نړیوالو بازارونو ته به د افغانستان لاسرسی اسانه شي. دغه راز، دغه ریل پټلۍ به افغانستان د سیمې د اتصال په مهم مرکز بدل کړي. د پروژې د کار په جریان کې به زرګونو هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شي او له بشپړېدو سره به یې د ترانسپورتي، لوژستیکي او سوداګریزو خدماتو په برخه کې ګڼ فرصتونه رامنځته شي.



## ازبکستاني شرکت په افغانستان کې د کانونو د پروسس صنعت کې پانګونې ته لیوالتیا ښودلې

د افغانستان اسلامي امارت د کانونو او پټرولیم وزارت مسوولینو له ازبکستاني مسوولینو سره لیدنه کړې ده. لیدنه کې دواړو لورو د اقتصادي همکاریو د پراختیا او په ځانګړې ډول د افغانستان د کاني سرچینو په برخه کې د پانګونې پر فرصتونو خبرې کړې او نظرونه یې شریک کړي دي. ازبکستاني لوري په افغانستان کې د وروستیو اقتصادي پرمختګونو او لاسته راوړنو ستاینه کړې او د کرومایټ او سربو کانونو د استخراج په برخه کې یې د پانګونې لیوالتیا څرګنده کړې ده. سربېره پر دې، دوی په افغانستان کې د کاني موادو د پروسس له پاره د یوې معیاري کارخونې د جوړولو په اړه هم خپل چمتووالی اعلان کړی دی. افغانستان د سیمې له هغو هېوادونو دی چې د بېلابېلو معدني سرچینو پراخه زېرمې لري. د دغو سرچینو اغېزناک استخراج او پروسس کولی شي د هېواد اقتصادي وده لا چټکه کړي او د عوایدو د زیاتوالي له پاره نوې سرچینې رامنځته کړي. د یو هېواد د اقتصادي ودې له پاره یوازې د خامو موادو استخراج کافي نه وي، بلکې د پروسس د صنعت پراختیا هم په اقتصادي وده کې مهم رول لوبوي. د هېواد دننه د کاني موادو پروسس سره به نوي کاري فرصتونه ایجاد شي او افغانستان به وکولی شي چې د هېواد له طبیعي سرچینو څو برابره اقتصادي ګټه ترلاسه کړي.

